## بسم الله الرحمن الرحيم

## مورږ يو امي امت يو

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«**إنا أمة إمية، لا نكتب و لا نحسب الشهر هكذا و هكذا؛ يعنی مرة تسعة و عشرين و مرة ثلاثين**» (سنن ابن ماجه)

***ژباړه:*** *مورږ يو امي امت يو، چې نه ليکل کوو او نه د رمضان مياشت داسې و هغسې حسابوو، يعنې يو ځل نهه ويشت ورځې او بل ځل دېرش ورځې.*

دغه حديث شريف مورږ له يوې مهمې موضوع څخه خبروي، چې زمورږ له يوه عبادت سره تړاو لري او هغه عبادت روژه ده. پورتنی حديث بيانوي چې مورږ يو امي (بې‌سواده) امت يو، چې د عباداتو په حساب و کتاب کې لاسوهنه نه کوو. ځکه چې په اړه يې ډېر احاديث او شرعي نصوص راغلي دي. په هغو کې دليل دا ګڼل شوی چې عبادات د الله سبحانه وتعالی لخوا توقيفي دي، يعنې نه تغير او بدلون کوي او نه هم علت لري؛ بلکې د الله متعال له امر سره سم پرې عمل کېږي. پر همدې اساس لمونځ هم په يوه ټاکلي وخت کې چې په لمر پورې تړاو لري، پيل او پای ته رسېږي. الله متعال د روژې مياشت د پيل او پای له اړخه په سپوږمۍ پورې او د روژې نيولو او روژه‌ماتي له اړخه په لمر پورې تړلې ده. له همدې امله هېڅوک حق نه لري، چې له دغې مسئلې پرته دې د عباداتو وختونه وټاکي. پر همدې اساس هېچاته پکار نه ده، چې ورځې حساب کړي او هغه په دېرشو او يا کمو او زياتو ورځو پورې محدودې کړي؛ لکه څنګه چې خلک ميلادي مياشتې محدودوي. د هغو مياشتو شمېر ثابت دی او هېڅکله بدلون نه کوي، هغه که دېرش ورځې وي او يا له دېرشو کمې او زياتې وي.

بله موضوع چې په دغه حديث کې ورته اشاره شوې، هغه د مبارکې مياشتې د ورځو د شمېر بدلون دی؛ امکان لري دېرش ورځې او يا نهه ويشت ورځې وي او دا مسئله په حساب و کتاب پورې اړه نه لري، بلکې د سپوږمۍ په ليدلو پورې تړاو لري چې د مياشتې د پيل خبر ورکوي. پر همدې اساس امکان لري چې د دغه کال رمضان له تېر کال سره توپير ولري او له راتلونکي رمضان سره برابر وي، يوازې سپوږمۍ دغه ټاکلی شي او موضوع د سپوږمۍ په ليدلو او نه ليدلو پورې اړه لري، له ستورپېژندنې سره هېڅ اړيکه نه لري او روا نه ده چې د هغې پر اساس حکم وشي. دا همغه څه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په دغه حديث کې ورته اشاره کړې ده

او په نورو احاديثو او نصوصو کې راځي چې د عباداتو وختونه توقيفي دي او  د الله تعالی له امر او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له رسالت سره سم را رسېږي.

يوازې له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې زموږ دين بشپړ کړي او له هغه څخه ساتنه وکړي او موږ سمې او ثابتې لارې ته برابر کړي! نو د الله سبحانه وتعالی له امر څخه بايد نافرماني ونه کړو او پر دين يې تهمت ونه لګوو. اللهم آمين!

**ليکوال: ماهر صالح**

**ژباړن: صهيب منصور**